مجله علمی سلام

Salam Academic Journal

*Journal Homepage:* https://www.resaearch.salam.edu.af

سال هشتم، دور دوم، شماره ۳، بهار سال ۱۴۰۲ هـ ش

ISSN: 3078-9575 (Print)    ISSN: 3078-9583 (Online)

تاریخ نشر: ۱۴۰۲/۰۵/۲۶    تعداد صفحات: ۲۲    از صفحه ۳۲ تا ۵۵

# د مبارک آیت {وَقَرنَ فِي بُيُوتِكُنَّ} راجح تفسير

دکتور محمد نعیم جلیلی[1]

عبدالملک ثاقب[2]

## لنډيز

په دې لنډه څېړنه کې د سورت احزاب د (۳۳) ايت د تفسير په اړه د يوې ناسمې انګېرنې د سمونې هڅه شوی ده، يو شمېر هغه وګړي چې متشابه نصوص (کوم نصوص چې د يو څخه د زياتو انګېرنو او تفسيرونو احتمال لري) د محکماتو او اسلامي امت د عامو علماوو د اتفاقي دريځ په رڼا کې نه فهموي، دوی د دې مبارک ايت لومړی برخه {وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ } د ايت د دويمې برخې څخه په مستقل ډول فهموي، او دويمه برخه چې د دې جملې د تفسير حيثيت لري له دې څخه بېلوي چې په نتيجه کې يې د دې مبارک ايت په تفسير کې په نا سمه انګېرنه کې پرېوزي، موږ په دې څېړنه کې په ډېر لنډ ډول د دې ناسمې انګېرنې او تفسير د سمونې هڅه کړې ده، او هغه په دې ډول چې د اسلامي امت د علماو عام دريځ دا دی چې د مباحو کارونو لپاره په شرعي پرده کې د مسلمانو ښځو د کورونو څخه بهر وتل مباح کار دی، همدا خبره د احاديثو څخه هم څرګنده ده، او د فقهاو او د احاديثو د شارحينو د تشريحاتو څخه هم څرګنده ده، او د رسول الله صلى الله عليه وسلم د ازواج مطهراتو له تعامل څخه هم همدا معلومېږي، نو دا ټول په دې دلالت کوي چې د ايت لومړۍ جمله له دويمې جملې څخه جلا کول او دواړه په مستقل ډول فهمول ناسم کار دی.

نو له دې امله د {وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ } سم تفسير هغه دی چې ډېرو مفسرينو خپل کړی دی، او هغه دا چې په ايت کې دويمه جمله { وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَىَ} د لومړۍ جملې بيان دی، نو د ايت معنی به دا وي چې «ای مسلمانو ښځو[3]! په کورونو کې قرار پاتې شئ، په دې معنی چې د لومړي جاهليت د راڅرګندېدو په څېر مه را څرګندېږئ» هدف دا دی چې د تير جاهليت په څېر را ښکاره کېدل مسلمانو ښځو ته نا روا دي، خو که ښځې د تير جاهليت په څېر نه را څرګندېږي، د هغوی حکم په دې ايت کې نه

[1]. د سلام پوهنتون په شرعياتو پوهنځي کې د علمي کدر غړی، 0772107170، mnjalily@gmail.com

[2]. د سلام پوهنتون د شرعياتو پوهنځي رئيس، 0789698395، abdulmaliksaqib95@gmail.com

[3]. په هغه صورت کې چې د دې مخاطبې ټولې مسلمانې ښځې وي، او دا خطاب يوازې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د ازواج مطهراتو پورې ځانګړی نه وي.

دی یاد شوی[4]، د دوی حکم بیا په نورو دلائلو باندې ثابت دی چې دا یو روا او مباح کار دی، نو په پای کې دا ویل شوي دي، چې د دی ایت د نا سم تفسیر پر بنسټ د ټولنې یوه لویه برخه د خپلو حقوقو څخه محرومول درست کار نه دی، خو دا سمه خبره ده چې ځوک د شرعي آدابو د رعایت څخه پرته له کور څخه بهر وځي هغوی باید متوجه کړای شي.

**کلیدي کلیمي: د مبارک آیت، وَقرنَ فِي بُيُوتِكُنَّ، راجح، تفسیر**

[4]. دا د هغه چا له نظره چې مفهوم مخالف ته په قرآن او سنت کې اعتبار نه ورکوي، لکه حنفي علماء.